

# سلطان عبدالحمید ثاني

Ketabton.com

ژباړه او څېړنه:

زاهد خلیلي

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com ته ورشئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب نوم: سلطان عبدالحمید ثاني

ژباړه او څېړنه: زاهد خلیلي

ایمېل ادرس: zahidkhalili@yahoo.com

کال: ۲۰۱۴ / جون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

عثماني خلافت ته يوه لنډه کتنه ........................................................ 4
د سلطان عبدالحميد شخصيت ........................................................ 8
واک ته رسيدل يې........................................................................ 11
اساسي قانون ............................................................................ 13
مدحت پاشا، فکر او کړنې يې ....................................................... 15
د ترکيې او روسيې اړيکې او جګړه ................................................. 17
د سان سټيفانو او برلين تړونونه.................................................... 21
د انګلستان سره اړيکې................................................................ 24
د فلسطين په اړه يې پاليسي ........................................................ 25
پان اسلاميزم ............................................................................ 27
له واکه ګوښه کول او پاتې ژوند يې ................................................ 31
ځوان ترکان.............................................................................. 33
اخيستليکونه: ........................................................................... 37

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com ته ورشئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عثماني خلافت ته يوه لنډه کتنه

عثماني خلافت په نړۍ کې د مسلمانانو د تېرو شويو خلافتونو څخه وروستی خلافت دی، چې په اوسنۍ ترکيه کې رامنځته او همدلته له منځه يوړل شو. ۳۴ عثماني واکمن د ۱۲۹۹ ز کال څخه تر د ۱۹۰۹ ز کال پورې واکمن وه.

د عثمانيانو بنسټ ايښودونکی عثمان د ارطغرل زوی دی، چې د پلار د مرګ څخه وروسته په ۱۲۸۸ ز کال کې واک ته ورسېد.

تاريخ ترکيه کې داسې ليکي:

د ارطغرل د وفات (۱۲۸۸ز) نه وروسته د هغه مشر زوی عثمان د هغه ځای ناستی شو. په ۱۲۸۸ ز کال کې د سلجوقي سلطان د يوه فرمان له مخې عثمان د سرحدي حاکم په توګه وټاکل شو. ( ۹: ۱۳)

د عثمان په لاس عثماني ډلې د بېزنطي دولت د امکاناتو او وسايلو په مټ له قبيلوي اسلوبه دولتي اسلوب ته واوښتې، په عثمان پسې يې زوی اور خان (۱۳۲۷ز) کال پر تخت کېناست، ورپسې لومړنی مراد، بيا يې زوی بايزيد، ورپسې محمد بن بايزيد، بيا دوهم مراد بن بايزيد او ورپسې محمد الثاني د قدرت واګې په لاس کې ونيوې، دغه محمد الثاني په تاريخ کې د محمد الفاتح په نوم شهرت لري، چې په ۱۴۵۱ ز کال کې واک ته ورسېد، په ۱۴۵۳ ز کال يې قسطنطينيه فتح کړه، بېزنطي امپراتور (يوولسم قسطنطين) يې وواژه او په دې توګه يې بېزنطي امپراتوري په بشپړه توګه له پښو وغورځوله.(۱۲: ۱۲۱)

قسطنطينيه د اسيا د نيولو دروازه وه، روميانو څو ځله د همدې لارې د اسيا د نيولو لپاره حملې کړې وې. د قسطنطينيې د نيولو لپاره د صحابه کرامو له وخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوښښونه شوي وه. د فاتح له حملې څخه مخکې نږدې يوولس ځلې مسلمانو مشرانو حملې کړې وې؛ خو يوه هم نه وه بريالۍ شوې. فاتح د ۱۴۵۳ ز کال د مى په مياشت کې حمله وکړه او دغه سيمه يې ونيوله او پلازمېنه يې د اناطوليې نه استنبول ته ولېږدوله.

د فاتح څخه وروسته په عثمانيانو کې بل مهم شخص سلطان سليم دی. ده وکولای شول، چې د عثمانيانو امپراتوري لا پراخه کړي، د فارس ځينې سيمې، مصر، شام او حجاز په بشپړ ډول ونيسي او د خلافت اعلان وکړي.

د تاريخ ترکيې ليکوالان ليکي:

کله، چې سلطان سليم د خلافت اعلان وکړ؛ نو د اسلامي نړۍ په يوه ځای کې هم د مخالفت غږ وانهورېدل شو.(۹:۱۱۴)

د سلطان سليم د وفات (۱۵۲۰ز) نه وروسته يې زوی سليمان اعظم، چې په سليمان القانوني مشهور دی، واک ته ورسېد. ده عثماني امپراتوري ډېره پراخه کړه. اروپايي هېوادونه بلغاريه، هنگري او وينس يې ونيول.

ځينې مؤرخين د سليمان القانوني له دورې سره د عثماني خلافت د زوال خبرې پيلوي؛ ځکه له ده وروسته د حکومت کولو طرز بدل شو، واکمن په عيش او عشرت بوخت شول، ځينې واکمن د کم عمر په درلودلو سره د خليفه کېدو وړ نه ول، فوځ به زياتره وخت بغاوتونه کول او واکمن به يې وژل.

سليمان په خپلې واکمنی کې عثماني سلطنت خپل عروج ته ورسوه، د هغه وروسته د خلافت زوال شروع شو. د څو کلونو پورې د زوال نښې نه ليدل کېدې؛ خو داخلي ستونزې د سليمان القانوني په وخت کې پېداشوې. يوه ترکي مؤرخ قوطچي د سلطنت د زوال د پيل په اړه څو مادې ذکر کړي، چې درې مهمې يې دلته ليکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- په لومړیو کې به سلطان د دیوان په هر مجلس کې د خپلو وزیرانو سره موجود وه او د هغوی سره به یې مشوره کوله؛ خو سلیمان القانوني دغه رواج پای ته ورسوه.

۲- سلطان سلیمان داسې کسان په لوړو څوکیو وټاکل، چې د لوړو څوکیو اهل نه ول.

۳- د سلطنت د وزیرانو پر ځای د حرم د ښځو او نورو هغو خلکو څخه چې د سلطنت پورې یې هېڅ اړیکه نه درلوده، مشورې اخیستل یې پیل کړل.(۹: ۱۴۲)

د سلطان سلیمان القانوني وروسته په نږدې عثمانیانو کې داسې کوم شخص نه دی تېر شوی، چې هغه دې د سترو کارنامو لرونکی وي او عثماني سلطنت ته یې کوم ستر خدمت کړی وي، بس د وروستیو په واکمنیو عثمانیانو خپلې زیاتره سیمې له لاسه ورکړې، په یونان، سربیا، ولاچیه او نورو سیمو کې بغاوتونه وشول او پای دغو سیمو ازادي واخیسته. عثمانیانو د روسیې او فرانسې سره ځینې جګړې وکړې او تړونونه یې هم لاسلیک کړل.

د سلطان سلیمان القانوني ډېر وروسته د دویم سلطان محمود (۱۸۰۸-۱۸۳۹ز) په وخت کې محمد علي پاشا رامنځته شو، دی د مصر والي وه او د عثمانیانو په اشاره یې په نجد کې د وهابي تحریک د پلویانو سره جګړې وکړې او هغوی یې له منځه یوړل.

ډاکټر علي محمد محمد صلابي د پاشا په اړه لیکي:

هغه د خپل مکر و فریب او ښه ذهانت په وجه د مصري علماوو اعتماد ترلاسه کړ، په ډېر خباثت، مکر او چاپلوسی یې په مصر کې خپل سیال (واکمن) لرې کړ او په ۱۸۰۵ ز کال کې د مصر د والي په توګه وټاکل شو. ډاکټر صلابي مخکې لیکي، چې د ماسوني ډلې او محمد علي پاشا تر منځ اړیکې موجودې وې.(۸: ۳۹۴-۹۶)

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com ته ورشئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لومړي سلطان عبدالمجید په واکمنۍ (۱۸۳۹-۱۸۶۱ز) کې د تنظیمات په نوم یوه نوې دوره شروع کیږي. هغه دوه فرمانونه د قانون په شکل وړاندې کړل.

په ۱۸۵۴ او ۱۸۵۶ ز کلونو کې دوه فرمانونه جاري شول، د دې فرمانونو په خپرېدو سره د تنظیماتو په نوم نوې دوره پیل شوه، دا یوه اصطلاح ده، یانې هېوادنۍ چارې په غربي ډول مخکې وړل، د دې فرمانونو په جاري کولو سره په اسلامي شریعت باندې د عمل کولو سلسله ودرېده او په هېواد کې د قانون او نورو ادارو د رامنځته کېدو یوه نوې لړۍ پیل شوه.(۸: ۴۲۸)

د همدې لومړي سلطان عبدالمجید د واکمنۍ پر مهال د کریمیا جګړه رامنځته شوه، چې روسیه یو خوا او ترکیه بلخوا وه. وروسته متحدو فوځونو (انګلستان او فرانسې) هم د روسیې پر ضد د جګړې اعلان وکړ، د دې اعلان وجه د سائنیوپ عام وژنه وه، چې د روسیې لخوا وشوه.

پروفیسر انصارالحسن لیکي:

د ۱۸۵۴ ز کال په سپتمبر کې متحد فوځونه (انګلستان او فرانسه) د کریمیا جزیرې ته ورسېدل، دلته د تېرو شپږو میاشتو څخه د ترکي او روسي فوځ تر منځ جګړه روانه وه، د دواړو خواوو تر منځ ستره جګړه د سپتمبر په ۳۰ د ایلما د سیند سره نږدې وشوه، چې روسي فوځ په کې ماته وخوړه.(۴: ۳۹۷-۹۸)

په ۱۸۶۱ ز کال کې د لومړي سلطان عبدالمجید وروسته د هغه ورور عبدالعزیز خلیفه شو.

سلطان عبدالعزیز د اروپا دوره وکړه، هغه دا احساس کړه، چې د اروپا ټول قوتونه د عثماني دولت پر ضد متحد دي او هر وخت د دوی پر ضد توطئې جوړوي، هغه کوښښ وکړ، چې د اروپا او روس تر منځ د شته اختلافاتو څخه ګټه واخلي. د دې موخې لپاره یې روسي سفیر ته څو ځله استنبول ته د راتګ دعوت ورکړ. اروپایې هېوادونه ترې ووېرېدل او د هغه پر ضد یې د بې ځایه مصارفو او اصراف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه پروپاګند وکړ. پای مدحت پاشا عبدالعزیز لرې کړ او د خپلو ملګرو په مرسته یې هغه وواژه.(۸: ۴۴۳-۴۴)

د عبدالعزیز وروسته یې وراره (پنځم مراد) د شیخ الاسلام د فتوا له مخې خلیفه وټاکل شو، دی د لومړي سلطان عبدالحمید زوی وه.

ډاکتر صلابي لیکي:

کله چې نیمه شپه د خوبه راویښ کړل شو او د عبدالعزیز د لرې کېدو نه خبر شو؛ نو ویره پرې راغله، عقلي قوت یې ملګرتیا پرېښوده او بیا چې کله د حسن جرکسي د وژنې نه خبر شو؛ نو عصبي کمزوري ورته پیداشوه. کله چې مدحت پاشا په خپل لاس د جوړ شوي قانون اعلان کاوه؛ نو د پنځم مراد حالت نور هم خرابېده... تر دې چې بشپړ لیونی شو. په دې وخت کې شیخ الاسلام فتوا ورکړه، داسې چې، کله چې د مسلمانانو واکمن پوره لیونی وي؛ نو د امامت هدف له منځه ځي؛ نو ایا په دې وخت کې یې لرې کول صحیح دي او کنه؟ (بیا ځواب ورکوي) په دې وخت کې د امامت (خلافت) نه د هغه لرې کول صحیح دي.(۸: ۴۴۵-۴۶)

له ده وروسته یې ورور دویم سلطان عبدالحمید په تخت باندې کېناست. دی د عثماني خلافت وروستی (۳۴ م) خلیفه دی، چې د ۱۸۷۶ ز کال څخه تر د ۱۹۰۹ ز کال پورې خلیفه وه. هسې خو عثماني خلافت د ۱۹۲۴ ز کال پورې موجود وه؛ خو واک د عثماني واکمن پر ځای د نورو سره وه.

## د سلطان عبدالحمید شخصیت

لکه مخکې چې مو ورته اشاره وکړه، سلطان عبدالحیمد د عثماني خلافت وروستی واکمن وه، دی د پنځم مراد ورور او د هغه ولیعهد وه، د مراد وروسته د لوی مفتي او لومړي وزیر مدحت پاشا لخوا خلیفه وټاکل شو.

ډاکتر محمد صلابي د هغه د کوچنیوالي او زده کړو په اړه داسې لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سلطان عبدالحمید ثاني

سلطان عبدالحمید د عثماني سلطنت په واکمنو کې ۳۴ م سلطان وه. ۳۴ کلن وه، چې په تخت باندې کېناسته؛ ځکه چې هغه په ۱۸۴۲ ز کال کې پېداشوی وه.

لس کلن وه، چې مور یې مړه شوه او پالنه یې د ناسکه مور په غاړه شوه، هغې د یوې سکه مور په توګه د هغه صحیح پالنه وکړه. هغې د سلطان سره ډېره مینه درلوده، تر دې چې د مرګ څخه مخکې یې وصیت کړی وه، چې زما ټول ملکیت د هغه دی. هغه ډېره دینداره ښځه وه او د سلطان پالنه یې هم په همدې ډول کړې وه، چې د سلطان په ژوند باندې د هغې اغېز لیدل کیږي.

سلطان عبدالحمید د سلطان په قصر کې د خپل وخت (مروج) اخلاق او علوم د تکړه استادانو نه زده کړل، عربي او فارسي ژبې یې زده کړې، تاریخ او ادب یې مطالعه کړل، د تصوف په اړه یې مالومات ترلاسه کړل او هغه په ترکي ژبه شعرونه هم ویل.(۸: ۴۴۹)

په کوچنیوالي کې یې د استنبول د وتلو علماوو او شیخانو نه درس ووایه. قران شریف یې په درست ډول لوستلای شو، د پیغمبر علیه السلام سنت او د حنفي فقهې مکتب یې هم ولوست. هغه د یوه صوفي په توګه وروزل شو، په ځانګړي ډول د نقشبندي او هېلوتي په فکر، کوم فکر چې د هغه د واکمنۍ په پېر کې لیدل کیږي.www.islamichistory.com

د وسلې استعمال یې زده کړ، په توره او نېزه وهلو کې یې مهارت ترلاسه کړ، تل به یې جسماني تمرین کاوه. په نړیوال سیاست به یې ژور نظر ساته او د خپل هېواد د طول او عرض دننه په پېښو به یې ځان پوره خبروه.

سلطان عبدالعزیز (د سلطان عبدالحمید کاکا) د اروپا دوره کوله، چې یو دولتي پلاوی هم ورسره موجود وه، په دې پلاوي (عثماني پلاوي) کې یو شخص چې عبدالحیمد نومېده هم شامل وه، چې د اروپایانو په مخکې په خپل ساده لباس او پاک سېرت سره ولاړ وه

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com ته ورشئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه دوره ۱۸۶۷ ز کال د جون په ۲۱ مه پيل او د اګست په ۷ مه پای ته ورسېده، دغه عثماني پلاوي فرانسه، انګلستان، بيلجيم او اسټريا-هنګري دولتونه د نږدې وليدل.

د دې اروپايي سياحت نه سلطان عبدالحميد ډېرې تجربې ترلاسه کړې او وروسته يې د خپل حکومت په جريان کې ترې د ګټې اخيستو کوښښ وکړ.

چې ځينې مهمې يې دادي:

۱- د اروپايانو اقتصادي طريقې، مختلف اخلاق او کلتوري بدلونونه.

۲- صنعتي او فوځي پرمختګونه، په ځانګړي ډول د جرمني او فرانسې ځمکني او د انګلستان بحري فوځي پرمختګونه.

۳- نړيواله سياسي لوبه.

۴- په عثماني دولت باندې د اروپايي هېوادونو اغېز.(۸: ۴۵)

د تاريخ ترکيې ليکوالان د هغه د شخصيت په اړه ليکي:

ځينې مؤرخين هغه د يوه چالاک، مکار، بزدل او فريبکار شخص په توګه پېژني... او هغه د ترکيې په معاصر تاريخ کې تر ټولو يو جنجالي شخص دی.(۹: ۲۶۹)

وتلی ترکي مفکر او ليکوال فتح الله ګولن د سلطان د شخصيت په اړه داسې ليکي:

د سلطان د حکومت پېر د فتنو او فساد پېر وه او هغه د ټولو په اتفاق ډېر ذهين، هوښيار او باتدبيره انسان وه... بلخوا زموږ ځينې غير معتدل او بې ادبه خلک هغه ته د يوه بزدل شخص په توګه ګوري.

هغه ظالم نه وه، بلکې د هغه په شخصيت کې چې کوم نظم او ضبط موجود وه، غوښتل يې، چې په ټولنه کې يې نافذ کړي. هغه غوښتل، چې ټولنه د زوال او شاتګ

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com ته ورشئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وژغوري، يا ټولنې ته پرمختګ ورکړي او کنه وي؛ نو د نورې ابترۍ نه خو يې وژغوري. په دې وخت کې د سخت نظم او ضبط راوستل د وخت غوښتنه وه. سربېره پر دې هم زموږ ځينې تکړه او د احترام وړ اديبان او شاعران په خپلو ليکنو او شعرونو کې د هغه په شخصيت نيوکه کوي؛ خو که چېرته هغوی د سلطنت د سقوط نه وروسته حالات مشاهده کړي؛ نو په خپلو غلطيو به پوه شي او ښښنه به وغواړي.

په ټولو عثماني واکمنو کې د فاتح وروسته سلطان عبدالحميد دی، چې په علومو او فنونو کې يې ستر خدمت کړی دی. پوهې او علومو ته د خدمت په برخه کې د هغه شخصيت د يوه نابغه حيثيت لري، په نوي ډول د مدرسو د جوړولو کار د سلطان عبدالحميد په وخت کې پيل شو.

سلطان عبدالحميد دومره زړه سواندی انسان وه، چې دغه زړه سواندتوب د هغه ذهني ناروغي ګرځېدلې وه، هغه د هېڅ انسان د وينې تویول نه غوښتل، همدا يې رحمت او شفقت وه.www.fgulen.com

هغه ترکي ليکوالان او سياسي فعالين چې د نويو عثمانيانو او يا هم د ځوانو ترکانو د غورځنګونو غړي وه، هغوی ټول سلطان عبدالحميد ته په نېک نظر نه ګوري، په هغه نيوکه کوي او د پرمختګ دښمن يې ګڼي. د دواړو غورځنګونو غړي د لوېديز د اخلاقو او کلتور نه اغېزمن شوي ول او غوښتل يې، چې په ترکيه کې په هماغه ډول اخلاقي سيستم، سياسي نظام او نور لوېديز قوانين پلي کړي – لکه وروسته چې بيا همداسې وشول - ؛ خو سلطان د هغوی د غوښتونو مخالفت کاوه. کېدای شي، چې د لوېديز پلوو د غوښتنو سره د مخالفت لامل وي، چې ځينې کسان په سلطان باندې نيوکه کوي.

## واک ته رسيدل يې

سلطان عبدالحميد د سلطان عبدالعزيز وراره دی، د سلطان عبدالعزيز د لرې کېدو او وژل کېدو وروسته يې وراره پنځم مراد په تخت کېناست، چې يوازې څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشتې یې واکمني وکړه. وروسته د ځینو ناوړه حالاتو د لیدو او اورېدو په پایله کې لیونی شو او خپل عصبي توازن یې له لاسه ورکړ.

ډاکټر محمد صلابي د عبدالعزیز وروسته د پنځم مراد په اړه داسې لیکي:

کله چې نیمه شپه د خوبه راویښ کړل شو او د عبدالعزیز د لرې کېدو نه خبر شو؛ نو ویره پرې راغله، عقلي قوت یې ملګرتیا پرېښوده او بیا چې کله د حسن جرکسي د وژنې نه خبر شو؛ نو عصبي کمزوري ورته پېداشوه. کله چې مدحت پاشا په خپل لاس د جوړ شوي قانون اعلان کاوه؛ نو د پنځم مراد حالت نور هم خرابېده... تر دې چې بشپړ لیونی شو. په دې وخت کې شیخ الاسلام فتوا ورکړه، داسې چې، کله چې د مسلمانانو واکمن پوره لیونی وي؛ نو د امامت هدف له منځه ځي؛ نو ایا په دې وخت کې یې لرې کول صحیح دي او کنه؟ (بیا ځواب ورکوي) په دې وخت کې د امامت (خلافت) نه د هغه لرې کول صحیح دي.(۸: ۴۴۵-۴۶)

د خپل ورور مراد نه وروسته د پنجشنبې په ورځ د ۱۸۷۶ ز کال د اګست ۱۳ مه د هغه په لاس بیعت وشو، په دې وخت کې یې عمر ۳۴ کاله وه. د بیعت لپاره وزیران او د دولت نور ملکي او فوځي مشران د طوبقبو په سرای کې حاضر شول، په دې ډول د مختلفو ډلو د نمائندګانو لخوا هغه ته د خلافت مبارکي ورکړل شوه. د سلطنت په طول او عرض کې د توپونو سلامي ووهل شوه او جشنونه وشول.(۸:۴۵۱ )

کله چې سلطان عبدالحمید واک ته ورسېد؛ نو ټول سلطنت د ستونزو سره مخ وه. د هغه دغه حالت د حضرت علي کرم الله وجهه د خلافت سره یو ډول ورته والی لري. د شلمې پېړۍ ستر مفکر بدیع الزمان نورسي ترکي لیکي: د هغه وخت د سترو فتنو د ختمولو لپاره د حضرت علي (ک) په شان یو شخصیت ته اړتیا وه او هغه (سلطان) په ډېرې ځوانمردۍ سره د هغه وخت د فتنو سره مقابله وکړه.

کله، چې هغه سلطان وټاکل شو؛ نو د خلافت حالات څه په دې ډول ول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تونس کې نا امني خپره شوې وه، فرانسويانو او ايټالويانو په مراکش کې لاسوهنې کولې او فتنې يې راپارولې. مصر کې يو ستره تبديلي متوقع وه، عربان نا ارامه ول، لنډه دا چې که ترکيه په کومه نړيواله جګړه کې داخله شي؛ نو ضرور به ماته وخوري.

د کريټ د جزيرې حالات هم هماغه ډول ول، د هغه ځای فوځ او حاکمان د وضعې په حاکمولو ناکامه ښکارېدل؛ ځکه هلته غربيان د يوې خطرناکې بلا په توګه موجود ول او د وتو هېڅ اراده يې نه درلوده. په بالکانو کې روسيې ښکاره مداخله کوله اومخالفتونه او فتنې راپارولې. سلاويانو د بلغاريې اوسېدونکي تحريکول، چې د عثماني سلطنت نه ازادي واخلي.www.fgulen.com

واک ته د رسېدو وروسته يې مدحت پاشا يو ځل بيا د لومړي وزير په توګه وټاکه.

لکه پاس چې مو ذکر کړل، سلطان د خپل ليوني ورور پنځم مراد وروسته خليفه وټاکل شو. دی نږدې ۳۳ کاله د عثماني خلافت واکمن وه او په عثمانيانو کې دويم شخص دی، چې دومره اوږده واکمني کوي. په ۱۹۰۹ ز کال کې د ځوانو ترکانو د يوه پاڅون او نړيوالو توطيو په ملاتړ له واکه ګوښه کړای شو، چې وروسته به پرې په تفصيل سره خبره وکړو.

## اساسي قانون

د سلطان عبدالحميد ثاني د واکمنۍ په لومړي کال اساسي قانون جوړ شو، مدحت پاشا چې لومړی وزير وه، هغه يې په جوړولو کې ډېر کوښښ وکړ.

د مدحت پاشا په اړه ويل کيږي، چې هغه غوښتل، تر څو جمهوري نظام رامنځته کړي. تر دې چې د هغه د وفات وروسته هم همدا خبره کېده، چې هغه په ترکيه کې د يوه قانون لرونکي جمهوري نظام غوښتونکی او ملاتړی وه، دا خبره د يادولو وړ ده، چې د جمهوري نظام په موجوديت کې يې د پاچا د منصب او مقام په اهميت

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې زور اچوه. هغه د مراد (پنځم) د معزولۍ پر مهال مجلس ته ویلي وه، چې: دولت د پاچا پرته نشي چلېدای.

د دېسمبر په ۲۳-۱۸۷۶ ز کال ماسپښین نږدې یوه بجه د قانون د نافذولو اعلان وشو، د قوي باران د ورېدو سربېره زيات خلک موجود ول؛ خو سلطان نه وه، د ۱۰۱ توپونو د سلامۍ په وهلو سره د قانون د نافذولو اعلان وشو، خلکو خوښي ښکاره کړه او خپل کورونه يې روښانه کړل، په همدې ورځ ماښام ځوانانو جلوس وويسته، د سلطان زنده باد او مدحت پاشا زنده باد نعرې يې وهلې. د ديني مدرسو او فوځي ښوونځيو د زده کوونکو ګڼوالی د ليدو وه، د دېسمبر په ۲۴ مه د يوې ورځپاڼې سرليک په دې ډول وه:

پرون ورځ د ټول عثماني رعيت لپاره

د خوښۍ د پيلېدو ورځ وه

د هېواد په لر و بر کې خوښۍ ښکاره شوې؛ خو د سلطنت په غير مسلمو اقليتونو کې د بالکان د عوامو خوښي نه ليدل کېده، په رومانيه کې خو د قانون پر ضد لاريون وشو؛ ځکه دا خلک د جلا والي غوښتونکي ول، ارمن او يهودان په دې قانون باندې خوښ ول، په استنبول او ادريانيل کې پرتو يونانيانو هم خوښي ښکاره کړه او ښه راغلاست يې ورته ووايه.

د ۱۸۷۶ ز کال قانون ۱۲ برخې او ۱۱۹ مادې درلودې، چې د سلطان د حکومت کولو، د لومړي وزير د ټاکلو، د وزيرانو او شيخ الاسلام د ټاکلو، د نظامي افسرانو د ټاکلو، د جرګو د واکونو او نورو ذکر په کې شوی وه. (۹: ۲۹۱-۹۷)

سلطان عبدالحميد ثاني د ځينو کړيو په غوښتنه په ۱۹۰۸ ز کال کې يو ځل بيا اساسي قانون نافذ کړ؛ خو په ورپسې کال کې د فوځ يوې برخې د دې قانون د پلي کولو پر ضد د اسلام په نوم بغاوت وکړ، دوی په قسطنطينيه کې د يووالي او پرمختګ د ګوند ځينې غړي ووژل، په دې سره محمود شوکت پاشا راپاڅېده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان يې د اپريل په ۲۶ د شيخ الاسلام په فتوا له تخته کوز کړ او واک ځوانو ترکانو ته انتقال شو.

## مدحت پاشا، فکر او کړنې يې

مدحت پاشا د ډېر وخت لپاره د عثماني ترکانو د لومړي وزير په حيث دنده اجراء کړه، هغه د عبدالعزيز او پنځم مراد په لرې کولو کې ستر رول ولوبوه. د پنځم مراد د لرې کولو وروسته يې عبدالحميد د مفتي په فتوا واک ته ورسوه، سلطان عبدالحميد، مدحت پاشا يو ځل بيا د لومړي وزير په توګه وټاکه.

مدحت پاشا په ترکيه کې د جمهوري نظام غوښتونکی وه، هغه غوښتل، چې د سلطان واکونه محدود کړي، په سلطان باندې يې اساسي قانون منظور کړ، هغه په ترکيه کې د يوه پارلماني حکومت نه، چې زيات واک ولري، ملاتړ کاوه.

دا چې مدحت پاشا څنګه شخص وه، مختلفو ليکوالانو يې په شخصيت باندې ليکل کړي دي. وتلی ترکي ليکوال فتح الله ګولن (په يوه مقاله کې) او ستر عرب مؤرخ ډاکټر محمد صلابي هغه د دونمه يهودانو د تحريک پټ غړی ګڼي او هم يې د عبدالعزيز په وژلو تورنوي.

ډاکټر محمد صلابي ليکي:

سلطان (عبدالحميد) مدحت پاشا لومړی وزير وټاکه او د دېسمبر په ۲۳-۱۸۷۶ ز کال يې د يوه قانون اعلان وکړ، چې په کې يې د ښاري ازاديو ضمانت ورکړی وه.(۸: ۴۵۱)

فتح الله ګولن ليکي:

مدحت پاشا د دونمه (يهودانو) سره اړيکه درلوده، هغه سره د اروپا ملاتړ موجود وه او د فتنې د اور په تازه کولو کې يې رول لوبوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدحت پاشا د خپلو ملګرو په ملاتړ د سلطان عبدالحميد کاکا سلطان عبدالعزيز وواژه او بيا يې د دې وژنې د پټولو لپاره دا دعوه وکړه، چې سلطان ځان وژنه کړې ده.www.fgulen.com

مدحت پاشا د دونمه يهودانو څخه وه. ماسوني مبغلينو په ختيځ او لوېديز کې د هغه د ښه توب لپاره تبليغ کاوه، چې هغه په عثماني امپراتورۍ کې د ازادۍ او اصلاح بيرغ لوړ کړی دی. سيکولرانو هغه ته د قانون د بابا نوم ورکړی وه، هغوی په ورځپاڼو، رسالو او جريدو کې د هغه لپاره ښه کمپاينونه کول، تر دې، چې هغه د عثماني سلطنت د لومړي وزير څوکۍ ته ورسېده، بيا يې د تخريب او سازشونو لړۍ شروع کړه. د ماسونيانو او يهوديانو ملاتړ ورسره مل وه، د حکومت د پرځولو لپاره يې د ماسونيانو د چلونو نه کار اخيست... مدحت پاشا د يهودي او ماسوني نړيوالو ډلو په مرسته د يوې ټولنې بنسټ کېښود، چې د (يووالي او پرمختګ) ټولنه نومېده... سلطان (عبدالحميد) چې کله د دې يهودي سازشونو نه خبر شو؛ نو هغه يې ژر ونيوه او تبعيد يې کړ.(٨: ۴۴۴)

مدحت پاشا به د شراب څښلو په محافلو کې د حکومت ټول مهم او پټ رازونه افشاء کول او په دويمه ورځ به دغه خبرې د استنبول د خلکو په خولو وې. يوه شپه يې خپل اراده (پلان) داسې ښکاره کړ، چې زه به ډېر ژر د عثماني دولت پر ځای د جمهوريت اعلان وکړم او په خپله به يې مشري کوم.

په مدحت پاشا باندې د سلطان عبدالعزيز د وژنې تور هم وه. سلطان عبدالحميد يو کميسون وګماره، چې د دې په اړه تحقيق وکړي، بيا يې تورن کسان محکمې ته وړاندې کړل، مدحت پاشا مجرم وپېژندل شو او په مرګ يې محکوم کړ؛ خو سلطان عبدالحميد مداخله وکړه او د هغه د مرګ جرم يې په ابدي حبس بدل کړ. مدحت پاشا يې حجاز ته تبعيد کړ، چېرته چې د فوځي بنديانو لپاره يو زندان موجود وه.

سلطان عبدالحميد د خپلو اسلافو په شان د خپلې واکمنۍ په اوږدو کې د خپلو اختياراتو نه استفاده کوله، مدحت پاشا لومړنی شخص وه، چې د هغه د اختياراتو په مقابل کې خنډ واقع کېده او هغه د دې قربانۍ لومړنی وزګوړی وګرځېده. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراخه اختیارات (واکونه) چې قانون سلطان ته ورکړي ول، لومړي وزیر (مدحت پاشا) غوښتل، چې هغه محدود کړي؛ ځکه په حکومتي چارو کې هغه دویم مقام درلود او د واکونو اصلي واک د سلطان سره وه.(۴۵۲:۸-۵۳)

## د ترکیې او روسیې اړیکې او جګړه

۱- اړیکې

د عثماني ترکیې او روسیې تر منځ اړیکې د سلطان عبدالحمید د واکمنۍ په دوران کې تر ډېره خرابې وې؛ ځکه روسیې پخوا هم د عثماني ترکیې د لاس لاندې سیمو کې خلک د ترکي حکومت پر ضد بغاوت ته هڅول. روسیې غوښتل، چې دغه سیمې (د باسفورس ابنا، توره بحیره اود بالکانو سیمې) تر خپل واک لاندې راولي، هغوی یې د عثمانیانو پر ضد شورش ته هڅول او دا بهانه یې کوله، چې عثمانیان د هغه ځای د عیسوي اوسېدونکو سره ښه سلوک نه کوي او ازادي یې ترې اخیستې ده.

د دواړو هېوادونو تر منځ د کریمیا د جګړې د پیلېدو یو لامل هم همدا سیمې وې، د کریمیا جګړه (۱۸۵۳-۱۸۵۶ز پورې) چې د ترکیې او روسیې تر منځ پېښه شوه او وروسته په کې متحد فوځ (انګلستان او فرانسې) هم برخه واخیسته، انګلستان د روسیې په مقابل کې د ترکیې د ادعا ملاتړ وکړ؛ ځکه د ترکیې په ګټو کې د انګلستان ګټې نغښتې وې. دغه جګړه د روسیې په ماتې او د پاریس په کنفرانس سره پای ته ورسېده.

ډاکټر محمد صلابي لیکي:

روسیې د دیني، سیاسي او اقتصادي لاملونو په وجه غوښتل، چې ځان ګرمو اوبو ته ورسوي. لوی پطرس روسانو ته وصیت کړی وه: د عثمانیانو سره دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمدني کشمکش جاري وساتل شي، تر دې چې د هغوی نښه له دې نړۍ څخه ورکه شي.

روسيې په همدې نصحيت عمل وکړ. د سلطان عبدالحميد د واکمنۍ په پېر کې د بالکانو، يونان او د نورو عثماني سيمو خلکو د روسانو او اروپايانو په اشارو بغاوتونه وکړل.(۸:۴۶۰)

پروفيسر انصارالحسن ليکي:

په ۱۸۶۶ ز کال کې د کريټ د جزيرې اوسېدونکو د روسيې په غوښتنه د ترکانو پر ضد د بغاوت بيرغ پورته کړ، يونان يې هم ملاتړ وکړ، په دې سره د روسيې او يونان تر منځ د جګړې خطر رامنځته شو؛ خو اروپايي قومونو مداخله وکړه او په ۱۸۶۹ ز کال کې د کريټ جزيرې داخلي ازادي ترلاسه کړه. (۴: ۶۱۷)

يوازې د کريټ جزيره نه وه، چې روسانو يې ملاتړ کاوه او بغاوت ته يې هڅول، د سربيا، رومانيې، بلغاريي او نورو بالکاني هېوادونو د ازادۍ په تحريکونو کې هم روسيې مستقيم او غير مستقيم لاس درلود.

سيد محمد فضل الله بخاري ليکي:

د مرکزيت په پای ته رسولو سره په ختيځ او لوېديځ کې پروت (عثماني) سلطنت د سياسي يووالي څخه هره ورځ بې برخې کېده او په لرو پرتو سيمو کې غير مسلمانو اقليتونو د نورو په مټ ورانی پېل کړ.(۷: ۵۵ )

۲- جګړه

د ترکيې او روسيې تر منځ پخوا هم ډېرې جګړې شوې وې، چې د جګړې مرکز به د بالکان هېوادونه ول. روسيې د پخوا څخه غوښتل، چې د بالکان هېوادونه د خپلې ولکې لاندې راولي. روسيې به د بالکان د هېوادونو عيسايي اوسېدونکي د عثماني ترکيې پر ضد جګړې ته هڅول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروفیسر انصارالحسن په تاریخ جدید یورپ کې د ترکیې او روسیې تر منځ د (۱۸۷۷ ز) کال د جګړې لاملونه په دې ډول لیکلي دي.

د ۱۸۷۶ ز کال په اګست کې د ترکیې د ولکې لاندې ولایتونو بوسنیا او هرزګونیا بغاوت وکړ، یو ترکي چارواکی یې وواژه او سربیا او مونټي نیګرو یې هم ملاتړ وکړ.

د ۱۸۷۶ ز کال په اپریل کې د بلغاریې خلکو د ترکانو پر ضد بغاوت وکړ او ترکان یې قتل عام کړل، ترکانو وځپل او هغوی یې باغیان اعلان کړل.

د ۱۸۷۶ ز کال په جون کې د مونټي نیګرو او سربیا خلکو د روسیې په اشاره د بوسنیا، هرزګونیا او بلغاریې د خلکو د ملاتړ لپاره د ترکیې پر ضد د جګړې اعلان وکړ، چې په دې سره حالات نور هم بحراني شول. په زرګونو روسي رضا کار د یوه روسي جنرال په مشرۍ سربیا ته ننوتل.(۴: ۶۱۸-۱۹)

د جګړې د مخنیوي لپاره د ځینو اروپایي هېوادونو لخوا ډېر کوښښونه وشول، مختلف کنفرانسونه راوغوښتل شول، د روسیې لخوا داسې وړاندیزونه وشول، چې ترکانو ومنل؛ خو بیا هم د جګړې مخه ونه نیول شوه؛ ځکه روسیې به بیا څو داسې شرایط وړاندې کول، چې سلطان ته به د منلو نه ول، هماغه وه، چې ۱۸۷۷ ز کال د اپریل په ۲۴ روسیې د ترکیې پر ضد د جګړې اعلان وکړ.

ترکیه یو خوا او سربیا، بلغاریه، روسیه، اسټریا، بوسنیا، هرزګونیا او رومانیه بلخوا ول.

د جګړې احوال د ډاکټر محمد صلابي په کتاب کې داسې لیکل شوی.

رومانیه هم د روس ملګرې شوه، عثمانیانو د روسیې سره ډېر سخت جنګ وکړ، روسي فوځ د دانیوب د سیند نه تېر شو او د عثماني دولت ډېرې سیمې یې د خپلې ولکې لاندې راوستې، لکه تېره نو او نیقو لبلي، چې اوس د بلغاریه هېواد سیمې دي. په دې ډول روسیې مهمې سیمې ونیولې. روسي فوځ ته د ماتې ورکولو لپاره سلطان په خپل فوځ کې ځینې تغیرات راوستل، روسیې کوښښ وکړ، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلیونا (Plevna) ښار ونیسي، دا بالکانو ته تلونکې مهمه بندرګاه وه؛ خو د عثماني فوځ تکړه سپه سالار عثمان پاشا روسي فوځ ته ماتې ورکړه او هغوی یې شا تګ ته اړ کړل. روسیې د خپل ډېر فوځ سره بیا حمله وکړه؛ خو بیا یې ماته وخوړه، د عثمان پاشا د تکړه والي په اړه سلطان یو ځانګړی فرمان صادر کړ، چې په کې یې د عثمان پاشا ډېره ستاینه کړې وه.

کله چې روسان د دغه تکړه مشر په مقابل کې ناکام شول؛ نو خپله پالیسي یې بدله کړه، د ښار محاصره یې پیل کړه او عثماني دفاعي فوځ ته یې د سامان د رسولو لاره یې بنده کړه، سربېره پر دې یې په ښار باندې حمله هم وکړه، چې روسي قیصر هم په کې شامل وه، د رومانیې امیر چې یو لک فوځ یې درلوده د روسیې سره مرسته وکړه، په دې جګړه کې روسي فوځ برلاسی وه، د روسي فوځ ټوله شمېره دوه نیم لکه شوه، هغوی د دریو کرښو په جوړولو سره عثمانیان محاصره کړل؛ خو عثمانیانو د عثمان پاشا په مشرۍ ډېره سخته مقابله کوله، د عثمانیانو شمېر ۵۰ زره وه؛ خو ډېر جرأت او کمال یې وښود، هغوی نه یوازې دفاع کوله، بلکې د هغوی د حملو مخنیوی یې هم کاوه، د عثمانیانو په زړه کې همدا خبره تېرېده، چې یا به بریالي کېږو او محاصره به له منځه وړو او یا به ټول شهیدان شو او د الله تعالی رضا به ترلاسه کړو.

عثمانیانو د عثمان پاشا په مشرۍ حملې کولې، زیات فوځیان یې شهیدان شوي وه... خو بیا هم یې د روسانو لومړۍ محاصروي کرښه ماته کړه، دویمه یې هم ماته کړه، د دښمن ډېر توپونه یې لاس ته ورغلي وه... کله چې یې د دریمې کرښې د ماتولو کوښښ کاوه، مسلمان مشر په همدې وخت لږ کې څه ټپي شو... هغه ښار ته د ننوتلو کوښښ کاوه؛ خو روسي فوځ ښار ته داخل شوی وه، دښمن د څلور خواوو څخه اورونه ورول، پای عثمانیان مجبور شول، چې تسلیم شي. دا پېښه په ۱۸۷۷ ز کال کې رامنځته شوه او عثماني مشر (عثمان پاشا) هم وسله وغورځوله... عثمان پاشا یې په دېسمبر کې روس ته ولیږه.(۸: ۴۶۰-۶۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پليونا د ماتې وروسته د ترکي فوځ قوت کم شو، د ۱۸۷۸ ز کال د جنورۍ په ۲۰ روسي فوځ ادريا نيل ته ورسېد، په دې سره سلطان د سولې غوښتنه وکړه او د مارچ په ۳ مه يې د سان سټيفانو په تړون باندې لاسليک وکړ.(۴: ۶۲۲)

## د سان سټيفانو او برلين تړونونه

د سان سټيفانو تړون د سلطان عبدالحميد لخوا د روسانو سره لاسليک شو، سلطان مجبور وه؛ ځکه چې روسان نور د سلطان پلازمېنې استنبول ته نږدې شوي وه او د ډاکټر صلابي د ليکنې له مخې د پلازمېنې نه يوازې پنځوس کيلومتره لرې وه.

ډاکټر صلابي ليکي.

روسي استازي له مخکې څخه ليکل شوي شرطونه راوړل او غوښتنه يې وکړه، چې دا بايد لاسليک شي، که چېرته يې لاسليک نکړي؛ نو روسي فوځ به مخکې تګ شروع کړي او استنبول به ونيسي. عثماني دولت سره د لاسليک پرته بله لاره نه وه. تړون لاندې مادې درلودې.

۱- توره بحيره سرحد وټاکل شو او ازاده يې اعلان کړه.

۲- سربيا ازاده (خودمختاره) اعلان شوه.

۳- بلغاريه هم ازاده اعلان شوه؛ خو سلطان ته به يو څه اندازه پيسې د باج په ډول ورکوي.

۴- د رومانوي دولت بشپړه ازادي.

۵- عثماني دولت به د ارمني، نصراني او سرکس قومونو بشپړه ساتنه کوي.

۶- عثماني دولت به د کريټ د جزيرې د نصرانيانو د حالت د ښه کولو لپاره اقدامات کوي.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com ته ورشئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- عثماني دولت به د جګړې ۲۵۰ میلیونه د سرو زور لېږې تاوان ورکوي، که روس وغواړي؛ نو د دې پیسو په بدل کې ځینې سیمې په خپله ولکه راوستی هم شي.

۸- باسفورس او دردا نیل به د جګړې او سولې په دواړو حالاتو کې روسي فوځ ته خلاصې وي.

۹- د بلغاریې مسلمان اوسېدونکي چې هر خوا وغواړي، هجرت کولای شي.

په دې تړون باندې د ۱۸۷۸ ز کال د مارچ په ۳ مه لاسلیک وشو، کله چې د عثماني دولت لخوا صفوت پاشا په دې تړون باندې لاسلیک کاوه؛ نو سترګې یې د اوښکو ځخه ډکې وې، ښکاره ده، په دې تړون کې داسې شرطونه وه، چې د عثماني دولت د هلاکت سبب شول.(۸: ۴۶۲-۶۳)

د وتلي مؤرخ کیټل بي له نظره: دا تړون د روسیې لپاره یوه بې ساري بریا وه، روسیې د کریمیا په جګړه کې بایللی ذلت او رسوایي بېرته جبران کړه، بالکان یې په خپله ولکه کې راوسته، بلغاریه یې د خاورې برخه شوه او په توره بحیره کې یې بیا لاس وهنه پیل شوه.

د بالکان په هېوادونو کې د روسیې د نفوذ پراخېدل او توره بحیره په بشپړ ډول د روسیې لاس ته ورتلل، د انګلستان د ګټو سره په ټکر کې وه. د اتریش لپاره د روسیې د لاس لاندې د یوې سترې بلغاریې منځته راتګ د منلو نه وه... رومانیه هم د روسیې نه خفه وه؛ ځکه سربیا ترې روسیې اخیستې وه، د یونان سیمه (موناسټر) بلغاریې ته ورکړل شوې وه. اتریش او انګلستان تش لاس پاتې وه.

انګلستان په تړون باندې د دویم ځل غور (نظر ثاني) غوښتنه وکړه، انګلستان ویل، چې د ختیځ مسئله تل د اروپایي هېوادونو لخوا حل شوې ده، روسیه یې د حل کولو هېڅ حق نلري.(۴: ۶۲۳-۲۴)

خو، ډاکټر صلابي بیا په دې موضوع کې د انګلستان شاملول د سلطان عبدالحمید کار ګڼي، هغه لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان اصلاً په جګړه کولو خوښ نه وه، هغه تړون تصدیق نه کړ او د لوړې سطحې دېپلوماتیکې هلې ځلې یې پیل کړې، تر څو بریالی شو، چې انګلستان د ځان ملګری کړي، د دې لپاره یو بل کنفرانس جوړ شو، چې د برلین کنفرانس نومیږي. هدف ترې دا وه، چې یو خوا د سان سټیفانو د تړون اغېز کم کړي او بلخوا روسیه د انګلستان نه وویروي، تر څو روسیه جګړه ونکړي. دې کنفرانس عثماني دولت ته لږ ګټه وکړه او د مخکیني تړون په نسبت یې تاوان کم وه.(۸: ۴۶۳)

د سان سټیفانو په تړون باندې د دویم ځل غور کولو لپاره د ټولو اروپایي هېوادونو کنفرانس په برلین کې د جون په ۱۳-۱۸۷۸ ز کال کې پیل شو. بسمارک یې مشري کوله، چې د یوه ایماندار دلال دنده یې سرته ورسوله، د ډیزرائیلي په څېر یو چالاکه سیاستوال د انګلستان نمائنده وه، د دې کنفرانس موخه د ترکیې ښه والی غوښتل نه ول؛ بلکې د سان سټیفانو تړون د انګلستان او اسټریا د ګټو سره برابرول یې موخه وه، د جولایي په ۱۳ په دې تړون باندې لاسلیکونه وشول.(۴: ۶۲۴)

د برلین تړون د لاندې مادو په اساس لاسلیک شو.

۱- د بلغاریې خودمختاري ومنل شوه او حدود یې تغیر شول.

۲- د یونان سرحد د شمال خواته لږ پراخه کړل شو؛ خو په دې ټول پوهېدل، چې یونان په جګړه کې ښکېل نه وه او د سان سټیفانو د تړون پورې یې اړه نه درلوده.

۳- بوسنیا او هرزګونیا یې د اسټریا پورې ونښلول.

۴- بسارابیا یې د رومانیې نه جلا کړه او د روسیې پورې ونښلول شوه.

۵- سربیا او توره بحیره خودمختاره اعلان شوه.

۶- د جګړې تاوان، چې ۲۵۰ میلیونه د سرو زرو لیرې وه، په ترکیه پرېښودل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- په عثماني دولت باندې دا ومنل شوه، چې په محکمو کې به د هر ډول مذهب او ملت لرونکو خلکو شاهدي مني.

۸- د کريټ په جزيره کې به د نصرانيانو د فلاح او ښه والي لپاره کار کيږي.

د جرمني بسمارک ځکه د دې کنفرانس د جوړېدو غوښتنه وکړه، چې د روسيې او انګلستان جګړه ټولې اروپا ته خپره نشي او د جرمني يووالي ته زيان ونه رسيږي، ځکه د چې د جرمني د يووالي لپاره ډېر کوښښ شوی وه. هغه (بسمارک) ستر هېوادونه دې کنفرانس ته راوغوښتل، تر څو د سان ستيفانو په تړون باندې بيا غور وکړي او د روسيې او ترکيې تر منځ د پېښ شوي جنګ د پايلو په اړه پرېکړه وکړي.(۸: ۴۶۴)

## د انګلستان سره اړيکې

د انګلستان او عثماني ترکيې تر منځ اړيکې زياتره وخت د انګلستان د ګټو پورې تړلې وې. انګلستان به زياتره وخت د روسيې په مقابل کې د ترکيې د دريځ ملاتړ کاوه، تر دې چې د کريميا په جګړه کې يې د ترکيې په ملاتړ جګړې ته ودانګل او روسيې ته يې ماتې ورکړه.

لکه مخکې چې مو ورته اشاره وکړه، د سان ستيفانو په تړون کې ترکيې ته ډېر زيان اوښتی وه، چې دغه زيان په بالکانو کې د انګلستان نفوذ هم تر پوښتنې لاندې راوستی وه، هماغه وه، چې انګلستان په دغه تړون باندې د بيا غور کولو غوښتنه وکړه او د برلين کنفرانس جوړ شو، په کومو سيمو کې چې ترکيې نفوذ درلود او په سان ستيفانو تړون کې روسيې ته پرېښودل شوې وې، د برلين کنفرانس نه وروسته د روسيې د نفوذ له ساحې ووتې او د انګلستان نفوذ په کې پياوړی شو.

دا چې ولې انګلستان په ترکيه او شاوخوا سيمو (بالکان هېوادونو) کې د روسيې نفوذ نه خوښوه، په دې اړه پروفيسر انصارالحسن داسې ليکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګلستان په ترکیه کې د روسیې اغېز نه خوښوه. انګلستان غوښتل، چې د روسیې په مقابل کې باید ترکیه د یوه خنډ په شکل شتون ولري؛ ځکه دا (خنډ) په لوی هند او د روم په بحیره کې د انګلستان د موجودیت لپاره ډېر مهم وه. د دانیال په دره او په قسطنطینیه باندې د ترکیې حاکمیت ځکه مهم وه، تر څو هند ته بحري تلونکې لاره په امن وي.(۴: ۳۷۳)

## د فلسطین په اړه یې پالیسي

فلسطین د دویم راشد خلیفه په وخت کې د مسلمانانو لخوا فتحه شو. د صلیبي جګړو په اوږدو کې د لږ وخت لپاره صلیبي لښکرو ونیوه؛ خو بیا سلطان صلاح الدین ایوبي بېرته ازاد کړ او د خپلې ولکې لاندې یې راوست... په ۱۵۱۸ ز کال کې د حرمینو کلي ګانې عثماني سلطان لومړي سلیم ته وسپارل شوې او په مستقیم ډول د عثماني امپراتورۍ د واک لاندې راغلل. د څو پېړیو وروسته یهودانو یو ځل بیا د فلسطین د نیولو کوښښ پیل کړ.

یهودان په نړۍ کې تیت او پرک پراته وه، زیاتره یې په لوېدیز کې اوسېدل، دوی یو ځانګړی یهودي دولت نه درلود، هماغه وه، چې د ۱۹مې پېړۍ په اوږدو کې یې د یوه جلا او خپلواک یهودي دولت د جوړولو لپاره هڅې پیل کړې. فلسطین په دغه وخت کې د عثماني امپراتورۍ د ولکې لاندې وه. ماسوني یهودانو د لومړي ځل لپاره خپل نمائنده قره صو سلطان عبدالحمید ته ور ولېږه، چې د هغه نه د فلسطین د لاسته راوړلو غوښتنه وکړي، تر څو هلته یهودان د ځان لپاره مستقل دولت جوړ کړي؛ خو سلطان د هغه غوښتنه رد کړه.

عبدالله ناصح علوان په خپل کتاب کې سلطان ته د قره صو د ورتګ او د سلطان د ځواب په اړه داسې لیکي:

د یهودانو لومړنی اقدام داسې پیل شو، چې یهودیانو فلسطین ته د رسېدو او په هغه باندې د قابض کېدو طرحه یې جوړه کړه او په دې لړ کې یې لومړنی اقدام دا وکړ، چې د یهودو تر ټولو ستر بډای (قره صو) چې د ماسوني ګوند د مشرانو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم وه، سلطان عبدالحميد ته يې د استازي په توګه ور واستوه او سلطان ته د وروستلو دپاره يې واسطه (عارف بيګ) شو، کله چې قره صو د سلطان عبدالحيمد دربار ته ورغی؛ نو په صراحت سره يې ورته وويل، چې زه د ماسوني استازی يم، چې ستاسې عالي حضور ته را استول شوی يم او پينځه ميليونه طلايي لېرې مو ستاسې شخصي خزانې ته راوړي او سل ميليونه طلايي لېرې مو ستاسو بيت المال ته د بلا سوده پور په توګه درته راوړي، په شرط د دې چې موږ ته په فلسطين کې څه امتيازات راکړئ.

دا خبرې چې کله سلطان عبدالحميد واورېدلې، د مخ بڼه يې بدله شوه او د قهر او غوسې نښې يې په څېره کې ځرګندې شوې او هغه سړي ته چې دغه يهودي يې ور وستی وه، مخ ور واړوه او ورته يې وويل، چې: آيا ته پوهېږې، چې دغه خنزير څه غواړي؟ بيا يې قره صو ته مخ ور واړوه او په ډېر لوړ اواز او غضبناکه لهجه يې ورته وويل، چې: رانه ووزه اې سپکه او ذليله.(۱۱: ۱۳)

ډاکټر توفيق الواعي هم دې ته ورته کيسه کوي؛ خو هغه د عارف بيګ نوم کمال بک ليکلی دی، چې کېدای شي، موخه يې ترې هماغه عارف بيګ وي.

سلطان د قره صو غوښتنه رد کړه او هغه يې بېرته وشړه؛ خو يهودان په ارام نشول. په ۱۸۹۷ ز کال کې يې خپل مشهور سياستوال او ستر يهودي مفکر هرتزل بيا ور ولېږه، تر څو د سلطان نه بيا د فلسطين غوښتنه وکړي او هلته د ځان لپاره مستقل يهودي دولت جوړ کړي، د هرتزل سره يو يهودي ملا موسی ليفي هم ملګری وه؛ خو دا ځل هم سلطان د هرتزل غوښتنه رد کړه او نا هيلې يې ولېږه.

ډاکټر توفيق الواعي د هرتزل د غوښتنې په باره کې د سلطان عبدالحميد ځواب داسې ليکي:

.... سلطان په غصه شو او په چيغه سره يې وويل: د وطن ځمکې نه پلورل کيږي، هغه ملکونه چې د وينو په بدل کې تر لاسه شوي نه پلورل کيږي؛ مګر په هماغه ارزښت سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرتزل د یاداشت په خپله کتابچه کې له سلطان عبدالحمید سره د ملاقات په ترڅ کې د هغه له خبرو دغه وینا نقل کړې، هغه لیکي: او ماته سلطان عبدالحمید نصحیت وکړ، چې په دغه لاره کې بل هېڅ قدم وانه خلم؛ ځکه دی نه غواړي، چې د فلسطین له یوې لوېشت ځمکې څخه تېر شي؛ ځکه هغه د ده ملکیت نه دی، بلکې هغه د هغه اسلامي امت ملکیت دی، چې د هغې لپاره یې جګړه کړې ده او د همدغې ځمکې خاورې یې د هغې د بچیانو په وینو لندې کړې دي. همدارنګه یې ماته نصیحت وکړ، چې: یهودان دې په میلیونونو پیسې وساتي (یانې زه یې نه غواړم) او ویې ویل: که یوه ورځ زما امپراتوري تجزیه شوه؛ نو تاسې به یې له پیسو پرته اخلئ؛ خو دا چې زه ژوندی وم؛ نو زما په بدن کې د چاړې کارول په ما باندې له دې څخه ډېر اسانه دي، چې زه فلسطین ووینم، چې زما له امپراتورۍ څخه جلا شوی دی او دا ناشونی کار دی.(۶: ۲۳۵-۲۳۶)

دا وه، د سلطان عبدالحمید ثاني پالیسي او نظر د فلسطین په اړه، چې درلوده یې، د هغه د واکمنۍ تر پایه پورې فلسطین د عثماني واکمنۍ د واک لاندې پاتې شو او په ډېره مېړانه یې د یهودي توطئو سره مقابله وکړه، فلسطین یې وساته؛ خو یهودو په ارامه پرېنښود، حکومت یې پرې چپه کړ، چې له ده وروسته یې وکولای شول، په اسانۍ سره فلسطین ترلاسه کړي.

## پان اسلامیزم

اسلام د یوه دین په توګه د لومړي سره ټول مسلمانان اتحاد او یووالي ته رابللي دي، په دوی کې یې هر ډول نژادي، قومي، ژبني او نورې برترۍ منع ګرځولې دي او د برترۍ معیار یې ورته تقوا ټاکلی دی، چې د دې خبرې ذکر د قران شریف په ګڼو ایاتونو او د احادیثو په مبارکو کتابونو کې شوی دی.

د اسلام په پېل کې د راشده خلفاوو د خلافت پر مهال ټول مسلمانان د یوه خلیفه او امام د مشرۍ لاندې راټول ول. وروسته چې د اسلامي حکومت ساحه لویه او پراخه شوه؛ نو حکومتونه هم ډېر او مختلف شول، مسلمانان د ډېرو حکومتونو لرونکي شول. د ۱۷ مې، ۱۸ مې او ۱۹ مې زیږدي پېړیو په اوږدو کې غربیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکولای شول، چې ځینې مسلمان هېوادونه ونیسي او په مستقیم یا غیر مستقیم ډول يې د خپل اغېز لاندې راولي.

عثمانیان چې د وسلو او مهماتو له پلوه کمزوري ول، نه يې شو کولای، چې د هغوی سره جګړې وکړي او خپلې دلاسه ورکړل شوې سیمې بېرته ونیسي؛ ځکه چې عثماني دولت ډېر کوچنی او کمزوری شوی وه، بلخوا د اسلامي نړۍ زیات شمېر مسلمان هېوادونه یا خپلواک وه او یا لکه د لوی هند په څېر د انګریزي ښکېلاک د ولکې لاندې ول. شمالي افریقا کې فرانسې یو شمېر سیمې لاندې کړې وې. خو، یوازې انګریز او فرانسه نه ول، چې عثماني خلافت ته يې ستونزې جوړولې او هېوادونه يې لاندې کول، بلکې روسیه هم د دې سترې لوبې وتلې لوبغاړې وه، روسیې په بالکانو کې د عثماني خلافت د واک لاندې سیمو کې خلک شورش ته هڅول، د عثمانیانو سره يې جګړې کولې او هڅه يې کوله، چې عثماني خلافت له منځه یوسي، د خلافت د له منځه وړلو فکر د ۱۸ مې ز پېړۍ په لومړیو د روسي لوی پطر لخوا د روسانو په غوږونو کې پو شوی وه. په همدې ډول روسانو د بخارا، سمرقند، قفقاز، افغانستان او شاوخوا نورو مسلمانو هېوادونو نیولو ته هم لاس ور اوږد کړی وه.

په ۱۹ مې او ورپسې پېړۍ کې یو شمېر مسلمان مفکرین رامنځته شول، چې د نړۍ ټول مسلمانان په ځانګړي ډول مشران يې اتحاد او یووالي ته رابلل، دوی يې د لوېدیز د استعمار د زیانونو نه ویرول او تأکید يې پرې کاوه، چې په خپلو کې سره یو شي، لاسونه سره ورکړي او د لوېدیز استعمار پر ضد یوه ځانګړې، قوي او خپلواکه سیاسي او نظامي ټلواله جوړه کړي. همدغه فکر ته د پان اسلامېزم نوم ورکړل شوی دی، چې مانا يې د مسلمانانو یووالی (اتحاد المسلمین) ده.

دا چې د دې فکر لومړی رامنځته کوونکی یا په اصطلاح مجدد څوک دی، په دې اړه ما دوه مختلف نظریات ولوستل.

د تاریخ ترکیې لیکوالان لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د اسلامی نړۍ د سیاسي یووالي لپاره د لومړني کوښښ په اړه مالومات وکړل شي؛ نو هغه شاه ولي الله وه، چې په خپل کتاب (حجة الله البالغه) کې یې په ټولې اسلامي نړۍ باندې تأکید کړی، چې په یوې کړنلارې (منشور) سره راټول شي او د اسلام د لوړوالي لپاره کار وکړي.(۹: ۲۷۹)

خو، د معاصر نړیوال اسلامي خوځښت بنسټ ایښودونکی بې له شکه، چې افغان سید جمال الدین دی، د هغه د کوښښونو له امله وه، چې په اسلامي نړۍ کې یوه ویښتیا او د یووالي فکر رامنځته شو. د افغان سید سفرونه، تقریرونه، لیکنې او مبارزه وه، چې ختیځ یې د لوېدیز د استعمار او کلتوري یرغل نه خبر کړ، دا فکر یې ورکړ، چې د هغوی د اخلاقو او کلتور پر ځای د هغوی د سائنس او ټکنالوجۍ سره مینه وکړئ.

استاد مرتضی مطهري لیکي:

شک نشته، چې د وروستیو سلو کلو د خوځښتونو راخوټوونکی علامه سید جمال الدین افغاني وه، چې په اسلامي نړۍ کې یې راویښونه پیل کړه او د مسلمانانو ټولنیز دردونه یې په ځانکړې واقع بینۍ بیان او د سمونې لار یې وښوده.(۵: ۱۰ )

کله، چې د اسلامي یووالي او نړیوال اسلامي فکر د رامنځته کېدو خبره کیږي؛ نو د افغان سید جمال الدین نوم یې په سر کې ذکر کیږي. هغه افغان سید وه، چې اسلامي فکر یې را ژوندی کړ، مسلمانان یې د لوېدیز د استعمار نه وویرول، هغوی ته یې ور وښوده، چې استعمار د مسلمانانو د وروسته پاتې والي اصلي لامل دی. مسلمانان یې په دې پوه کړل، چې مسلمانان باید د لوېدیز د اخلاقو او کلتور پر ځان د هغوی د سائنس او ټکنالوجۍ سره مینه ولري، د هغوی د کلتور او د ژوند د مادي فکر له خپلولو څخه ډډه وکړي.

محمد ابوریه لیکي:

یواځینی هدف چې سید یې په لاسته راوړلو کې ډېر زیار ویسته او په دغه لاره کې د ډېرو ستونزو سره مخ شو، هغه د اسلامي هېوادونو د خلکو د ژوند د سطحې

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com ته ورشئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړول، يووالی د وروروليۍ رامنځته کول او د مسلمانانو د برابرۍ لپاره کار کول وه.(۲: ۵۵)

ډاکټر محمد صلابي ليکي:

د سلطان عبدالحميد د حکومت په اوږدو کې په لومړي ځل د اسلامي يووالي فکر رامنځته شو او په ۱۸۷۶ ز کال کې چې سلطان عبدالحميد په تخت باندې کېناست؛ نو د يوه تحريک (خوځښت) بڼه يې خپله کړه، کله چې سلطان عبدالحميد لږ ارام شو او د غرب ځپليو ذهنونو نه يې خلاصون ترلاسه کړ او واک يې په بشپړ ډول په لاس کې ونيوه؛ نو د اسلامي يووالي (پان اسلامېزم) د فکر په پلي کولو يې پيل وکړ.(۸: ۴۶۵)

سيد جمال الدين افغان په ترکيه کې د اوسېدو پر مهال د لومړي ځل لپاره دغه فکر رامنځته کړ، چې مسلمانان بايد د لوېديز د استعمار او د روسيې د پراختيا غوښتنې پر وړاندې يوه قوي سياسي او نظامي جبهه جوړه کړي. عثماني خليفه ليدل، چې عثماني لويه امپراتوري يې د تجزيې د ستر خطر سره مخ ده؛ نو د افغان سيد دغه نظر يې ومنه او د پلي کولو لپاره يې کوښښ پيل کړ، تر څو عثماني ستره امپراتوري د تجزيې څخه وساتي او هم د مسلمانانو د خليفه نوم تر لاسه کړي.

ډاکټر شاه عبدالقيوم ليکي:

افغان سيد چې له دغه نظر سره توافق درلود او د مسلمانانو تر منځ د اتحاد د رامنځته کولو هڅه يې کوله؛ نو په همدې خاطر کله، چې ترکيې ته راغی؛ نو د سلطان عبدالحميد په وړانديز يې په هندوستان، افغانستان او مصر کې خپلو همفکرانو او دوستانو او همدا راز د عراق او ايران اهل تشيع علماوو ته پېغام ولېږه، تر څو د اسلام د خليفه مقام ته د سلطان عبدالحميد د رسېدو لپاره لار هواره کړي او خپله همکاري ورسره وکړي (۱۸۹۲ ز).(۱۰: ۱۱۵)

سلطان عبدالحميد د پان اسلامېزم نظريه او فکر چې د افغان سيد جمال الدين لخوا رامنځته شوی وه، خپل کړ او د هغه پواسطه يې غوښتل، چې عثماني اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امپراتوري د تجزيې څخه وژغورې، خپل ځان د ټولو مسلمانانو خليفه کړي او هم د دې نظريې په ملاتړ د روسيې د پراختيا غوښتنې او د انګليس او فرانسې استعماري سياست سره مبارزه وکړي؛ خو د سلطان دغه سپېڅلې ارمان د يهودي ماسوني ډلې او همفکرو په واسطه يې سرته رسېدو ته پرېنښودل شو.

## له واکه ګوښه کول او پاتې ژوند يې

سلطان عبدالحميد ثاني د عثماني خلافت ۳۴ م واکمن وه. د ده پر ضد د ځوانو ترکانو يو خوځښت د تېرې پېړۍ په اتيايمو او نوي يمو کلونو کې رامنځته شو، دوی د يووالي او پرمختګ په نوم يو ګوند هم درلوده، چې وتلي ليکوال، مفکرين، ژورنالستان او روشنفکران يې غړي وه. دوی د سلطان د واکونو کمول غوښتل، دوی غوښتل، چې يو ډول مشروطه سلطنت بايد رامنځته او د سلطان واکونه محدود کړل شي. د يووالي او پرمختګ ګوند د پخواني قانون پلي کول غوښتل او هم يې غوښتنه کوله، چې پارلمان ته بايد بيا د کار د پيلولو اجازه ورکړل شي.

ډېرو ليکوالانو او پوهانو دا خبره ثابته کړې ده، چې د دې خوځښت زياترو غړو د ماسوني يهودي خوځښت سره فکري يووالی درلوده، د هغوی په اشارو يې کارونه سرته رسول، د هغوی لپاره يې د سلطان پر ضد کودتا وکړه او له واکه يې ګوښه کړ.

د يووالي او پرمختګ د ګوند د خوځښت په تحريک کې د ماسوني يهودانو رول وتلي عرب مؤرخ دوکتور علي محمد صلابي هم ذکر کړی دی. هغه ليکي:

.... د سلطان خبر رسوونکې ادارې هغه د دې خوځښت نه خبر کړی وه او بشپړ مالومات يې ورکړي وه؛ خو اوس دا خوځښت ډېر پياوړی شوی وه او غړي يې په ولکه کې راوستل ډېر ستونزمن کار وه، د هغوی حوصلې ډېرې لوړې وې، هغوی د سلانيک، مناسترا او د سوسن د سيمو خلک چمتو کړي ول، چې د قانون د پلي کولو لپاره غږ لوړ کړي او هم پارلمان ته د کار د پيلولو د اجازې غوښتنه وکړي. دا پېښه د ۱۹۰۸ ز کال په جولايي کې رامنځته شوه. ډېر لاملونه شته، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې په دې وخت کې د يووالي او پرمختګ ګوند سلطان عبدالحميد له واکه ګوښه نه کړ؟ چې يو څو يې دلته ليکو.

۱- په ۱۹۰۸ ز کال کې د يووالي او پرمختګ د ګوند سره پوره قوت موجود نه وه.

۲- سلطان عبدالحميد د هغوی په اړه نرمه پاليسي خپله کړې وه، د هغوی د غوښتنو احترام يې وکړ او د قانون پلي کول يې اعلان کړل.

۳- عثماني قوم د سلطان سره ډېره مينه درلوده. د يووالي او پرمختګ د ګوند په کمېټه کې دا جرأت موجود نه وه، چې د فوځ دننه د سلطان پر ضد پروپاګند وکړي؛ ځکه فوځ د سلطان ډېر زيات احترام کاوه.

خو، وروسته د ۱۹۰۸ ز کال د اپرېل په مياشت کې ځوانو ترکانو د سلطان عبدالحميد ثاني پر ضد بغاوت پيل کړ او هغه يې د اپرېل په ۲۶ مه د شيخ الاسلام د فتوی په اساس له واکه ګوښه کړ.

نسيم احمد ليکي:

سلطان په ۱۹۰۸ ز کال کې بېرته د قانون د پلي کولو اعلان وکړ، د قانوني مجلس د احياء کولو وروسته سلطان يو ځل بيا د قانون لغوه کولو فکر وکړ. په ۱۹۰۹ ز کال کې د حيدر پاشا لخوا د ريل ګاډي د پټلۍ د يوه ټرمينل د پرانستلو پر مهال د فوځ يوې برخې د شريعت په نوم د دې قانون پر ضد ودرېدل او په قسطنطينيه کې يې د يووالي او پرمختګ د ګوند څو غړي ووژل، په دې سره محمود شوکت پاشا د سلانيک نه فوځ راوسته، قسطنطيني ته راغی، باغيان يې وتړکول او مشران يې ورته په دار وځړول، د شيخ الاسلام نه يې د سلطان د معزولی فتوا د ۱۹۰۹ ز کال د اپريل په ۲۶ راواخيسته او د قانوني مجلس (پارلمان) لخوا يې تائيد کړه او سلطان يې له تخته کوز کړ، سلطان يې د يلدز د قصر نه سلانيک ته ولېږه او هلته يې په قصرالجيش کې نظربند کړ، چې وروسته د ۱۹۱۸ ز کال د فبرورۍ په ۱۱مه ومړ.(۳: ۱۰۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځوان ترکان

لکه مخکې چې مو ورته اشاره وکړه، د یووالي او پرمختګ ګوند وکولای شول، چې سلطان عبدالحمید له سلطتنه کوز کړي او واک په خپل لاس کې ونیسي. ځوان ترکان د همدغه یووالي او پرمختګ د ګوند غړي ول، چې د ۱۹ مې پېړۍ په وروستیو کې یې لومړی پټ او وروسته په ښکاره ډول فعالیت کاوه. ډېری غړي یې د سلطان لخوا تبعید شوي او ځینې بندیان شوی هم وه.

ډاکټر محمد صلابي لیکي:

د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې د عثماني قوم هغه ځوانان چې لیک او لوست یې کولای شو، د فرانسې د انقلاب د هغو افکارو نه، چې په پایله کې یې په فرانسه کې جمهوري نظام، قومیت او سیکولریزم په څېر افکار رامنځته شوي وه، ډېر اغېزمن شوي وه. دا خلک د ایټالیې د هغه قومي خوځښت نه هم اغېزمن شوي وه، چې مشري یې مازیني کوله... د ۱۸۶۵ ز کال په اوږدو کې د عثماني قوم دې لوستو خلکو د استنبول د یوې لرې پرتې سیمې بلګراد په یوه باغ کې په یوه موضوع باندې خبرې کولې.

دې خلکو چې په کومه موضوع باندې خبرې کولې، د سیاست سره یې اړیکه درلوده، کله چې دوی د بڼ څخه بهر راوتل؛ نو د یوې پټې ټولنې د جوړېدو پرېکړه یې کړې وه، هماغسې لکه په ۱۸۳۱ ز کال کې چې د ایټالیې مازیني یې اساس ایښی وه او موخه یې دا وه، چې د جمهوریت د بیرغ لاندې د ایټالیې یووالی رامنځته کړي. د ترکیې دې ځوانانو د خپلې ټولنې نوم (اتفاق الحمیت) کېښود، په دې ځوانانو کې هغه شاعر هم موجود وه، چې وروسته یې ډېر شهرت ترلاسه کړ (نامق کمال). دې خلکو فکر وکړ، چې لومړی کار باید دا وي، چې د ټولنې خلک باید د خپلو سیاسي حقوقو څخه خبر شي او چمتو شي، چې د لاسته راوړلو لپاره یې کوښښ وکړي. په دې ډول نصراني ټولنې، چې د عثماني دولت څخه یې د جلا والي غوښتنه کوله او نورو هېوادونو ته یې د مداخلې زمینه برابروله، د هغوی مخه به ونیول شي او د بهر نه د مرستو بهانه به یې هم پای ته ورسیږي. دې خلکو فکر کاوه،

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com ته ورشئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد چې د کومو حالاتو سره مخ دی، د دې حالاتو (خرابو حالاتو) څخه د وتو یوازینی لاره یې د جمهوري نظام منځته راوړل دي. (۸: ۴۹۷-۹۸)

ځوان ترکان څوک وه ؟ د تاریخ ترکیې لیکوالان دې پوښتنې ته داسې ځواب ورکوي.

ځوان ترکان تعلیم یافته، ذهین، سنجیده او وطنپرست وه، په هغوی کې فوځیان او ښاري خلک شامل ول، ځینو ځوانو ترکانو د اروپا سیاحت کړی وه او د هغوی د افکارو او قانون ژوره مطالعه یې کړې وه. هغه څه چې ورته ګټور او ښه ښکاره شوي وه، ترې أخذ یې کړل.(۹: ۳۰۴)

ابوالحسن علي ندوي د خپل مشهور کتاب (په اسلامي نړۍ کې د اسلام او لوېدیز والي کړکېچ) په یوه لمنلیک کې د خالده ادیب خانم (چې د دې خوځښت غړې وه) د کتاب په حواله د ځوانو ترکانو په اړه داسې لیکي:

د اتحاد او پرمختګ د مجلس ځوانان کم رتبه حکومتي مأمورین او یا پوځي افسران وو، په لومړي سر کې په هغوی کې یو کس هم داسې نه وه، چې غوره علمي پوهه یې لرلای او د تحلیل او تنقید پر وسیله د نوې او پخوانۍ زمانې په فرق پوه شي؛ خو دغه خلک له ملت سره ډېر نږدې او د هېواد اصلي اوسېدونکي وو، زیات شمېر په کې د مقدونیې اوسېدونکي وو، چې په واقعیت خوښونه او بې رحمۍ کې مشهور وو او د خپل مقصد د لاسته راوړلو لپاره تر هر څه تېریدای شو، ګواکې چې هغوی ډېر لوړ اهداف لرل او له همدې لامله یې هر ډول وسایل په اسانی سره استعمالول.(۱: ۶۶)

د ابراهیم افندي، نامق کمال، ضیاء ګوګ الپ، خالده ادیب خانم او نورو په څېر پوه او مفکر اشخاص په کې شامل ول، ابراهیم شناسي افندي د ځوانو ترکانو د خوځښت بنسټ ایښودونکی ګڼل کیږي. دوی ټول د لوېدیز د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو فلسفو او نظامونو نه اغېزمن شوي ول، دوی غوښتل، چې ترکیه باید د لوېدیز دغه سیاسي او ټولنیزې فلسفې په بشپړ ډول خپلې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضياء ګوک الپ (۱۸۷۵- ۱۹۲۴ ز) د يووالي او پرمختګ د ټولنې ستر مفکر او فعال غړی وه، دی د لوېديز تمدن د بشپړ پلي کولو غوښتونکی وه.

ابوالحسن ندوي د ضياء ګوک الپ د يوه ليکل شوي مضمون په حواله ليکي:

موږ به خامخا له دوو نه يوه لاره ټاکو، يا بايد لوېديز تمدن ومنو او يا بايد د لوېديز ځواکونو غلامني ومنو، موږ ته يوه خبره فيصله کول ضروري دي، پر موږ لازم دي، چې د خپلې ازادۍ لپاره پر لوېديز تمدن خپل اقتدار قايم کړو.(۱: ۷۲)

ابوالحسن ندوي دا هم ليکلي، چې ضياء ګوک الپ د اتاترک د واکمنۍ په لومړيو کې مړ شو، ولې د اتاترک په اصلاحاتو کې هغه څه موندل کيږي، چې ضياء ګوک الپ يې غوښتنه کوله او د هغو غوښتنو په اړه يې ليکل کړي وه.

نامق کمال هم د ځوانو ترکانو وتلی شخص وه، دی يو معتدل ځوان ترکی بلل شوی دی.

ابوالحسن ندوي په خپل کتاب د نامق کمال په اړه وتلي ليکوال برنارډ ليويس نظر داسې ليکي:

د خپلې هېواد پالنې او ازاد خيالی سره سره نامق کمال رښتونی او جذباتي مسلمان وه، د هغه په مضامينو کې چې د کوم مورني هېواد (ترکيې) يادونه راځي، که څه هم بنسټ يې د ډلې يا فرقې په ځای سيمه ده؛ خو د هغه فکر په دې باب دومره سوچه اسلامي دی، لکه څنګه چې د عثماني سلطنت وه، هغه په خپل ټول ژوندانه کې د اسلامي ارزښتناکو عقايدو او روايتو پېرو وه، هغه زياتره د خپلو ګوندونو پر مشرانو او قائدينو ډېر تند او تېز انتقاد کاوه، چې هغوی د پخوانيو اسلامي رواياتو په ساتلو کې ناکام شوي او له اروپا نه يې نوي افکار او ادارې وارد کړي دي.(۱: ۷۸)

که د ځوانو ترکانو د ټولو مخکښو نظريات په ژور ډول ولوستل شي؛ نو په خپلو کې سره لږ څه توپير لري. لکه پورته چې وليدل شول، د ضياء ګوک الپ او نامق کمال د نظرياتو تر منځ هم ژور توپير شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې ځوانو ترکانو غوښتل، چې د ترکيې ټول سياسي، اقتصادي او ټولنيز نظام بايد د لوېديز په ډول جوړ شي، زياترو يې د لوېديز تمدن د نړۍ د يوازينې تمدن په توګه قبول کړی وه او غوښتل يې چې ترکيه بايد په بشپړ ډول د لوېديز په ډول جوړه شي، خلافت بايد له منځه يوړل شي او د اسلامي نظام پر ځای دې جمهوري نظام رامنځته شي، دوی د ترکي نشلنېزم ملاتړي ول. خو داسې اشخاص هم په کې ول، چې د لوېديز د پرمختګونو سره يې مينه درلوده، د هغوی د سائنس او پرمختګونو د خپلولو او هېواد ته د راوړو غوښتنه يې کوله؛ خو د لوېديز د اخلاقو او کلتور پر ځای يې اسلامي اخلاقو ته ترجېح ورکوله، د لوېديز د سياسي نظام او اقتصادي نظام پر ځای يې اسلامي نظام غوښته، دې ډلې د اسلامي خلافت د پايښت غوښتنه کوله او نه يې غوښتل، چې خلافت له منځه لاړ شي او ترکيه په يوه کوچني هېواد باندې بدله شي. د ځوانو ترکانو د حکومت درې مشرانو په همدغه ډول حکومت وکړ او تر پايه پورې يې د عثماني اسلامي امپراتورۍ د ټوټې کېدو مخه ونيوله؛ خو د لومړۍ نړيوالې جګړې په پيلېدو سره د نړۍ نقشه بدله شوه.

د ځوانو ترکانو د حکومت او د لومړۍ نړيوالې جګړې په اوږدو کې همدغه دوه نظريې په ترکيه کې موجودې وې، چې پای پرې هغه څوک بريالي شول، چې د ترکي نشنلېزم غوښتنه يې کوله، هغوی د دې پر ځای چې عثماني امپراتوري قوي او پراخه کړي، هغه يې ړنګه کړه او ترکيه يې د ډېرو هېوادونو د مشرۍ نه لاس په سر کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخیستلیکونه:


۱- ندوي، ابوالحسن علي، په اسلامي نړۍ کې د اسلام او لوېدیز والي کړکېچ، ژباړن، فضل مولا لټون، خپرونکي د الهدی نشراتي اداره، ۱۳۷۲.

۲- ابوریه، محمد، د سید جمال الدین ژوند او سیاسي هڅې، ژباړن، عمران فضل، ګودر خپروندیه ټولنه، جلال اباد ۱۳۹۱.

۳- احمد، نسیم، حجاز ریلوی عثماني ترک اور شریف مکه، الفیصل ناشر، لاهور ۲۰۱۰ اکتوبر.

۴- انصارالحسن، پروفیسر، تاریخ جدید یورپ ۱۷۸۹-۱۹۹۷، خپروونکي افتخار بټ، دویم چاپ ۲۰۰۱.

۵- مطهري، استاد مرتضی، په وروستیو سلو کلو کې اسلامي خوځښتونو ته ځغلنده کتنه، خپرونکی؟ چاپ کال ۲۰۰۹.

۶- الواعي، ډاکټر توفیق ، یهودان... ژباړن، عبدالحکیم امل، میوند خپروندیه ټولنه، پېښور، ۲۰۱۲.

۷- بخاري، سید محمد فضل الله، لومړۍ نړیواله جګړه، ژباړن، زاهد خلیلي، مومند خپروندیه ټولنه جلال اباد، ۱۳۹۲.

۸- صلابي، دوکتور علي محمد، سلطنت عثمانیه، ژباړن، علامه ظفر اقبال کلیار، ضیاء القران پبلي کیشنز، لاهور، اګست ۲۰۰۸.

۹- عبدالباري، دلبر خان، تاریخ ترکیه، ایورنیو بک پیلېس، لاهور، چاپ کال ؟.

۱۰- عبدالقیوم، ډاکټر شاه، سید جمال الدین افغان شخصیت او افکار، ژباړن، سید عبدالله پاچا، میوند خپرندویه ټولنه، پېښور، ۲۰۰۸.

۱۱- علوان، عبدالله ناصح، نشنلېزم هم باید وپېژنو، ژباړن، زمرک عابد، رفعت کتاب خپرولو ټولنه، ۲۰۰۵.


د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com ته ورشئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲- عويس، دوکتور عبدالحليم، د اسلامي تمدن مړاوي پاڼې، ژباړن، سلطان محمود صلاح، حکمت خپرندويه ټولنه، جلال اباد ۱۳۹۲.

۱۳- www.fgulen.com د وتلي ترکي ليکوال او مفکر فتح الله ګولن ويبپاڼه ده، چې د نړۍ په ډېرو ژبو د نوموړي ليکنې خپروي.

۱۴- www.islamichistory.com د پروفيسر ډاکټر نذير احمد ليکل شوې رساله.

د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com ته ورشئ

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**